قُرَّةُ عَينِي فِي الصَّلٰوة



د مانځه او نور ضروري مسائل

حضرت مولانا ولی اللہ صاحب کابلگرام



عظیم الشان خوشخبری



★ اب مکتبہ اشاعت آپ کے جیب میں ★

دنیا میں کسی بھی جگہ علماء جماعت اشاعت التوحید والسنۃ کے تمام تصانیف

Play Store اور Website سے بالکل فری انسٹال / ڈاؤن لوڈ کریں۔



انسٹال / ڈاؤن لوڈ کرنے کا طریقہ



Play Store سے " مکتبۃ الاشاعت "انسٹال کرنے کے بعد ایپ میں مطلوبہ کتاب ڈاؤن لوڈ کریں نیز اپنی کتاب کو Website / Play Store پر مفت شائع کرنے کے لیے بھی رابطہ کریں۔

نوٹ

ویب سائٹ پر جماعت اشاعت التوحید والسنۃ کے تمام تصانیف مثلاً تفاسیر، فتاویٰ جات، شروح، سوانح حیات، نوٹس، درس نظامی کے کتب وغیرہ دستیاب ہیں آپ وقتاً فوقتاً Play Store اور website پر چیک کیا کریں مزید معلومات کے لیے دیے گئے واٹس ایپ نمبر پر رابطہ کریں۔ وہاں آپ کو آسانی کے لئے مطلوبہ کتاب کا link دیا جائے گا اور آپ کو بہترین رہنمائی دی جائے گی جس سے آپ کو مطلوبہ کتاب آسانی سے ملے گا۔ پلے سٹور پر ترجمہ و تفسیر یا سورتوں کے نوعیت والے تصانیف دستیاب ہوں ہیں کیونکہ ایک PDF میں اس کا مطالعہ مشکل ہوتا ہے تو ہم نے آسانی کے لیے ہر ایک پارے کے لیے الگ الگ بٹن بنایا ہے تاکہ قارئین کے لیے پڑھنے میں آسانی ہو باقی تمام نوعیت کے تصانیف مندرجہ ذیل ویب سائیٹ پر دستیاب ہوں گے۔ جو Goggle پر مزکورہ ویب سائیٹ میں سرچ کرنے سے یا ہمارے مندرجہ بالا app " مکتبۃ الاشاعت "کو پلے سٹور سے انسٹال کرنے کے بعد ایپ میں سرچ کرنے سے ملیں گے۔ آسانی کے لیے ویب سائیٹ پر links ملاحظہ کیجئے۔ جزاکم اللہ

WhatsApp:0320-1914145

ویب سائیٹ **maktabatulishaat.com** (مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام)

قرة عيني في الصلوة

قرة العيون

دمانځه او نور ضروري مسائل



حضرت مولانا ولی اللہ صاحب کابلگرام

فهرست د دې کتاب

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۝

الحمد لله الذی جعل الایمان شرطاً لقبول الاعمال والشرك محبطا لسائر الطاعات والصلوٰة والسلام علی من جعل التقویٰ ملاك الحسنات وجعلت قرة عينه فی الصلوات وعلی آله واصحابه الكاملين الهداة وعلی من تبعهم باحسان الی يوم المجازات ۔ اما بعد

الله تعالیٰ فرمایلی دی واقم الصلوٰة ان الصلوٰة تنهیٰ عن الفحشاء والمنكر عنكبوت ۴۵ او مونځ اودروه بیشکه مونځ منع کوی بنده د بے حیائی او ناروا ونه) یعنی صحیح مونځ) واقيموا الصلوٰة ولا تكونوا من المشركين. روم ۳۱ او اودروی مونځ او مه شئ د مشرکانو نه " واقم الصلوٰة لذكری (طٰهٰ ۱۴) او اودروی مونځ ځما د یاد د پاره) مونځ ډیر اهم عبادت دے په قرآن شریف او په حدیث پاک کښے بے انتها تاکید او فضیلتونه راغلی دی الله تعالیٰ دے نیکانو عالمانو له لوئ اجر ورکی هغو د مانځه فضائل او د مانځه ارکان او شرائط مکمل بیان کړیدی لیکن پښتو مسلمانانو له په ژوندی پښتو کښې د مانځه صحیح ترجمه ځما د نظر نه نه ده تیره شوی د دی وجه ځکه د وستانو په ویناد مانځه ترجمه او ځینے احکام لیکم ورسره ځینے نورے بنیادی خبرے هم کیدے شی چه چاته ترینه فائده او رسی که صحیح وی نو د الله نه به وی او که خطاء وی نو ځمانه او د شیطان نه به وی الله تعالیٰ د توفیق را کی

ایمانیات

بے د ایمان نه هیڅ عمل الله تعالیٰ ته منظور نه وی د دے وجې نه اول بنده له ځینې کول ضروری دی د ایمانیاتو لنډه نقشه په آمنتُ بالله کښی ده چه ایمان مجمل او ایمان مفصل په نوم سره خلق یاده وی . ایمان مجمل " یعنی په لنډه بانډې ضروری او بنیادی خبر واقرار او تصدیق کول آمنتُ بالله كما هو باسمائه وصفاته وقبلت جميع احكامه اقرار باللسان وتصديق بالقلب ایمان م راوړو په الله تعالیٰ باندې په کوم شان چه هغه دے د خپلو نومونو او صفتونو سره او ومنل ټول حکمونه ئے دا م اقرار دے د ژبې او یقین م دے د زړه . ایمان مفصل ، یعنی د ایمانیاتو د بنیادی خبرو تفصیل آمنتُ بالله وملائكته وكتبه ورسله واليوم الآخر والقدر خيره وشره من الله تعالیٰ والبعث بعد الموت ایمان م راوړو په الله تعالیٰ او په فرشتو ئے او په کتابونو ئے او په استاذو ئے او په ورځ د آخرت او په تقدیر د خیر او د بدے چه د الله تعالیٰ د طرف نه دی او په بیا پورته کید ولپس د مرګ نه " تفصیل او ایمان مجمل مطلب دا دے چه څرنګ د خپلو نومونو او صفتونو سره دے او څهان لږ ئے ویلی دی نو ځما په ایمان دے اوس ما ته معلوم دی او کنه او حکمونو ټول اوس معلوم دی او کنه خو ټول م او منل دا م د ژبی اقرار دے او د زړه یقین نو اوس په پس د دے اقرار نه د الله تعالیٰ نومونه او د هغو معنی د الله تعالیٰ صفتونه او د هغو مطلب ایزده کوئی چه چرته په ناپوهی د هغه نومونو یا صفتونو نه بل چاله اونه وائی او د هغه شان په د الله تعالیٰ حکمونه ایزده کوئی چه چرته په ناپوهی د هغے نه خلاف او نه کی

فرضیت د علم د دین زده کړه په مسلمان بنده فرض ده الله تعالیٰ

فرمایلي دي فَاعْلَمْ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ (محمد ۱۹) نو ځان پوهـ[redacted]کړه (یعنی علم حاصل کړه) چه لشته دے لائق د هیڅ قسم عبادت هیڅوک بے د الله تعالیٰ نه، چه علم ئے نه وي نو کیدے شي چه د بل چا عبادت اوکي

ایمان باللّٰه په الله تعالیٰ د ایمان لرلو مطلب دا دے لکه چه ددې ټول عالم پیدا کونکے یواځې الله تعالیٰ دے نور دهغه شان ددے عالم د هر سے خیرے انتظام هم یواځې الله تعالیٰ کوي څوک ورسره په دې کښې شریک لشته الله تعالیٰ وائي يُدَبِّرُ الْاَمْرَ (یونس ۳) د هر څه انتظام یک یواځې الله تعالیٰ کوي، د یو ځائے تعظیم کول د خاص ځایونو نه) یا بے د زمزم د اوبو نه د نور ځایونو د اوبو تعظیم کول او برکت پکښې گنړل د هغه شان عبادت یعنی مونځ روژه حج زکوٰة نفلي صدقات نذر (منځ) شکرانه طواف د یو کا نهی (بے د حجراسود نه) ښکلول دا ټول صرف د الله تعالیٰ په امر کیدے شي او عبادت دے بے د الله تعالیٰ امرے کول د مخلوق عبادت دے. او ډیر لوئے گناه دے الله وئیلي دي، فَاعْبُدِ اللّٰهَ مُخْلِصًا لَّهُ الدِّيْنَ ٥ زمر ۲ نو عبادت ټول الله تعالیٰ له اوکه یواځې کونکے هغه لره دین د، وَمَآ اُمِرُوْآ اِلَّا لِيَعْبُدُوا اللّٰهَ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ ٥ حُنَفَآءَ. البینة ۵ او چرے نو ویلے شوی دي ته لیکن دا چه کامل عبادت د اوکي د الله یواځې کونکي خاص هغه لره دین خپل (صحیح کونکي دي دین ته) د هغه شان په الله تعالیٰ د ایمان مطلب دا دے چه په تمامو غیبو پوهیدونکے صرف الله تعالیٰ دے چا لـ ئے هم علم غیب نه دے ورکړے انبیاء علیهم السلام ته ئے څه خبر ونه د غیبو خو د لے دي علم ئے نه دے ورکړے الله تعالیٰ وائي. قُلْ لَّا يَعْلَمُ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ الْغَيْبَ اِلَّا اللّٰهُ (منکوت) (اعلان اوکه چه بالکل نه پوهیگي ټول هغه چه په آسمانونو کښې دي او چه په زمکه دي په غیبو باندې لیکن الله تعالیٰ پوهیگي.

د هغه شان غائبانه آواز کول یعني را مدد شه ویل صرف د الله تعالیٰ حق دے بل چا ته غائبانه آواز کول ناروا دي الله تعالیٰ وائي، لَهٗ دَعْوَةُ الْحَقِّ (رعد ۱۴) خاص الله لره ده بلنه حق فَادْعُوا اللّٰهَ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ ٥ حٰمٓ مؤمن ۱۴ نو الله را مدد کړئ یواځې کونکي هغه لره دین فَلَا صَرِيْخَ لَهُمْ (یٰس ۴۳) نو لشته فریاد رس مخلوق له (بے د الله نه)

ایمان بالملٰئِکة په فرښتو د ایمان مطلب دا دے چه د نور نه پیدا دی د الله تعالیٰ د حکم نه خلاف نشي کولے د گناهونو نه پاکے دي د هاروت ماروت والا قصه خلقو کښې غلطه مشهوره ده فرښتے الله تعالیٰ پاکے پیدا کړي دي لَا يَعْصُوْنَ اللّٰهَ مَآ اَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُوْنَ مَا يُؤْمَرُوْنَ ٥ التحریم ۶ خلاف نه کوي د هغې نه چه الله تعالیٰ ورته امر اُوکي او کوي صرف هغه چه الله تعالیٰ ورته او وائي) څنے فرښتے د ډیرې لوی درجے والا دي لکه د عرش فرښتے او جبریل. میکائیل. اسرافیل. عزرائیل. رضوان (د جنت افسره فرښته) مالک (د جهنم افسره فرښته) د فرښتو شمار چا ته معلوم نه دے بے د الله تعالیٰ نه، وَمَا يَعْلَمُ جُنُوْدَ رَبِّكَ اِلَّا هُوَ (مدثر ۳۱) نه دے معلوم لښکرے د رب دې لیکن الله تعالیٰ ته

ایمان بالکتب په کتابونو د الله تعالیٰ د ایمان مطلب دا دے چه انبیاء علیهم السلام ته الله تعالیٰ موقع په موقع د عالم د هدایت د پاره په دې دنیا د ژوند د تیرولو پروگرام درکړے دے چه هغه پروگرام بنده ژوند تیرکي نو دنیا او آخرت ئے د واړه د خشحالئ شي او که نو د واړه ژوند ئے تباه او برباد شي دا پروگرام خالص د الله طرف دي انبیاء علیهم السلام پکښې په خپل جوړ څه رد و بدل نشي کولے څنے انبیاء علیهم السلام څه نوے پروگرام نه دے پیش کړے بلکه د پخوانی پیغمبر د کتاب تعلیم عام کي څنو انبیاء علیهم السلام له الله تعالیٰ واړه کتابونه ورکړي و چه هغو ته صحیفے وائی څنے آدم علیه السلام ته او څنے نورو انبیاؤ ته علیهم السلام

غټ کتابونه څلور په څلورو پیغمبرانو نازل شویدي - توراة شریف په موسی علیه السلام زبور شریف په داؤد علیه السلام او انجیل شریف په عیسی علیه السلام . او قرآن شریف په حضرت محمد علیه السلام باندې نازل شویدی ځکه د قرآن پاک نه نور ټول کتابونه د خپل خپل وخت د پاره وو د همیشه د پاره نه وو په دغه کتابونو کښې نالائقو خلقو رد وبدل هم کړیدے د قرآن پاک په راتلو دغه ټول کتابونه منسوخ شو یعنی د عمل قابل نه دي پاتې شوي البته ادب او تعظیم ئے ضروری دے ځکه چه اوس پکښې هم صحیح حکمونه څنی شته دے **قرآن پاک** د الله تعالیٰ آخری کتاب دے د ټول عالم د پاره رد وبدل پکښې نه شویدے او نه به پکښې اوشي د مخکښې ټولو کتابونو ناسخ دے عمل به صرف په قرآن پاک کولے شي نه په تیرو کتابونو

ایمان بالرسل

په رسولانو د ایمان مطلب دا دے چه د پیریانو او انسانانو د هدایت د پاره الله تعالیٰ موقع په موقع باندې نیکان انسانان مقرر کړي وو اول آدم علیه السلام او آخری حضرت محمد علیه السلام دے په دے مینځ کښې کوم پیغمبران الله تعالیٰ رالیګلي دي شمار ئے الله تعالیٰ ته معلوم دے دغه ټول انسانان وو یعنی بشر وو ایمان په ټولو اجمالاً ضروری دے خو تابعداری صرف د حضرت محمد علیه السلام ضروری ده د بل پیغمبر تابعداری د کامیابی ذریعه نه ده

عصمت انبیاء علیهم السلام ټول پیدائشي او بیا ترمرګ پورے د هر قسم ګناه نه الله تعالیٰ معصوم (یعنی پاک) ساتلي دي د الله تعالیٰ هر حکم ئے رسولے دے هیڅ خیانت او سستي ئے پکښې نه ده کړے

د څنے پیغمبرانو نومونه

قرآن پاک کښې د پنځه ویشتو پیغمبرانو نومونه خودلے شوی دي دغه ایزده کول پکار دي ، حضرت آدمؑ ادریسؑ نوحؑ

هودؑ صالحؑ ابراهیمؑ اسماعیلؑ اسحاقؑ لوطؑ یعقوبؑ یوسفؑ شعیبؑ موسیٰؑ هارونؑ یونسؑ ذوالکفل الیسعؑ الیاسؑ زکریاؑ یحییٰؑ داودؑ سلیمانؑ ایوبؑ عیسیٰؑ محمدؑ علیهم الصلوات والتسلیمات

خاتم النبیین علیه السلام حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم د الله تعالیٰ آخری پیغمبر دے ترقیامت پورے بل پیغمبر په دنیا پیدا کیدونکے نشته دے عیسیٰ علیه السلام چه ژوندے پیغمبر دے په آسمانونو کښې قیامت نه نزدے به راځي او قرآن وسنت به په دنیا کښې خوروي نور ټول دینونه به ختم کړي

د نبي علیه السلام متعلق نور ضروری معلومات

د پلار نوم ئے عبدالله د نیکه نوم ئے عبدالمطلب د نیکه د پلار نوم ئے هاشم د نیکه نیکه عبدمناف دے او عبدمناف عربي دے او په عربو کښې قریشي بیا هاشمي دے ډیر اوچت نسب والا او ډیر اوچت ذات والا دے د مور نوم ئے آمنه د مور د پلار نوم ئے وهب او د وهب د پلار نوم عبدمناف او د عبدمناف پلار زهره دے دی نه بره د نبي علیه السلام د پلار او مور نسب یو ځائے دے د نبي علیه السلام نارینه ځوان اولاد نه وو لونړه ئے وې او د هغوی څخه اولاد هم وو په مکه معظمه کښې پیدا او وو هم هلته الله تعالیٰ په څلویښتم کال پیغمبر کړو ټولے دنیا ته او قرآن پاک رالیګل ئے ورته شروع کړه دیارلس کال مسلسل شپه ورځ ئے د الله تعالیٰ د دین محنت اوکړو ډیر کسان الله تعالیٰ ایماندار کړه بیا ئے مجبوراً مدینے منورے ته هجرت اوکړو ابوبکر صدیق صاحب رضی الله عنه ورسره وو په دے سفر کښې لس کاله ئے هلته د الله تعالیٰ د دین کامل خدمت اوکړو په دریشتم کال .

د نبوت د ربیع الاوّل میاشت کښې د الله تعالیٰ رحمت ته نوله د دې دنیا نه لاړ جزاه
الله تعالیٰ عنّا احسن الجزاء وصلی الله تعالیٰ علیه وعلی اصحابه واتباعه الی یوم الدین
ورضی الله تعالیٰ عنّا وعن جمیع المسلمین ه په مدینه منوره کښې په خپل کور
کښې مدفون دے تر قیامت پورے په د الله تعالیٰ رحمتونه وریګی

د اصحابانو رضی الله عنهم مقام

په دریشتو کالو د نبوت کښې
نبی علیه السلام ډیر اعلیٰ او اوچت مقام کاملان شاګردان پیدا کړیدی
د هر قسم داغ نه پاک دی خطایانے ترینه شوېدی لیکن په اجتهاد یعنی
د خپل عمل به ورسره دلیل وو خو په دلیل کښې به خطا شو خو سره د دینه ئے
الله تعالیٰ د بخښنے اعلان کړیدے رضی الله عنهم ورضوا عنه،

تنقید،، په صحابه ؤ رضی الله عنهم اعتراض کول ډهغو غلطیانے ئے خرګندول
ډیره لویه غلطی او ګناه دے ډهغو سره محبت کول او ډهغو تعظیم کول
او صفتونه ئے کول ایمان دے ډهغو بې ادبی کول د نبی علیه السلام
بے ادبی ده او ډهغو تعظیم کول د نبی علیه السلام تعظیم دے هر بنده دې
خیال اوکی چه څه به د پیغمبر علیه السلام سره صباح مخ لګوم او ډهغه په
د خپلو شاګردانو طرفداروی نو څه به څه جواب کوم الله تعالیٰ د هر ایماندار
له ډهغو محبت او تعظیم نصیب کی

خلفاء راشدین رضی الله عنهم

د نبی علیه السلام په شاګردانو کښې څنګے ډیر اوچت مقام والا دی په علم
او عمل د واړو کښې په ټولو کښې بهتر لیس د نبی علیه السلام نه ابوبکر صدیق رض دے

خلیفه اول او بیا عمر فاروق رض خلیفه دے دویم بیا عثمان غنی رض دے خلیفه سوم
بیا علی مرتضیٰ رض دے خلیفه چهارم رضی الله عنهم ورزقنا محبتهم واتباعهم
هم په دی ترتیب جوړ غوره دی

ایمان بالآخرة،، د دے مطلب دا دے چه یوه روځ د قیامت
راتلونکې ده عالم به ټول د الله تعالیٰ سره مخ کیګی او د ذرے ذرے به ورسره
حساب کیګی د الله په رحم باندې به بنده په خپل عمل خلاصیګی شفاعت بے د الله
تعالیٰ د اجازت نه څوک نشی کولے نه په نسب خلاصیدے شی

ایمان بالقدر،، په تقدیر د ایمان مطلب دا دے چه په دے عالم کښې
کیدونکی هر څه الله تعالیٰ د مخلوق د پیدا کولو نه مخکے مقرر کړی او لیکلی دی
هم هغه شان به کیګی څوک ئے بدلولے نشی

ایمان بالبعث،، پس د مرګ نه چه الله تعالیٰ کله او غواړی نو بیا
او بندیان به ټول پورته کی او جزاء سزا به ورله د عمل مناسب ورکوی
د ایمانیاتو څه اجمالی ذکر او شو مناسب ده چه شپږ کلمے ذکر شی ځکه چه دا
هم ایمانیات دی او هم اذکار

شپږ کلمے

اول کلمه طیبة

لآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ ہ

نشته دے څوک لائق د هیڅ قسم عبادت بے د الله تعالیٰ نه محمد علیه السلام په دی عقیده د الله تعالیٰ استاذے دے

دوېم کلمه توحید

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ يُحْيِىْ وَيُمِيْتُ وَهُوَ حَيٌّ لَّا يَمُوْتُ اَبَدًا اَبَدًا ذُو الْجَلَالِ

وَالْإِكْرَامِ بِيَدِهِ الْخَيْرُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ط نشته څوک لائق د
هیڅ قسم عبادت بے د الله تعالیٰ نه یک یواځی خاص هغه لره ده بادشاهی او
خاص هغه لره دی صفتونه د خدائے یک یواځی هغه جوندون (ځادی) ور
کوی او مرګ (غم) راولی هغه جوندے دے مرګ په نه راځی (یعنی
زوال) همیشه همیشه خاوند د لوئے او د قدر کولو (د ایمان ارو) دے
یک یواځی د هغه په لاس کښ دی رسول د خیر او یک یواځی هغه دے
په هر څه قدرت والا

دریم کلمه شهادت
أَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ ط د زړه نه اقرار کوم
چه نشته دے لائق د هیڅ قسم عبادت څوک بے د الله تعالیٰ نه او د
زړه نه اقرار کوم چه محمد علیه السلام د الله تعالیٰ بنده (یعنی بشر
او محتاج) او په دے مسله د لیکلے شوید ے

څلورم کلمه تمجید
لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيْمِ ط نشته بالکل واپس کیدل (د بدو نه) پروس د بنده او
نه توان (د نیکی د کولو) لیکن په مدد د الله تعالیٰ چه ډیر اوچت او
لوئے دے

پنځم کلمه استغفار
أَسْتَغْفِرُ اللهَ رَبِّيْ مِنْ كُلِّ ذَنْبٍ أَذْنَبْتُهٗ عَمَدًا أَوْ خَطَأً سِرًّا أَوْ عَلَانِيَةً وَّأَتُوْبُ إِلَيْهِ

مِنَ الذَّنْبِ الَّذِيْ أَعْلَمُ وَمِنَ الذَّنْبِ الَّذِيْ لَا أَعْلَمُ إِنَّكَ أَنْتَ
عَلَّامُ الْغُيُوْبِ وَسَتَّارُ الْعُيُوْبِ وَغَفَّارُ الذُّنُوْبِ وَلَا حَوْلَ وَلَا
قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيْمِ ط. بخنه غواړم د الله تعالیٰ نه
چه پالونکے م دے د هر ګناه نه چه کړے م وی په قصد وی او که په
خطائی د خلقو نه پناه وی او که ښکاره (څرګند) وی او توبه او باسم د الله طرف
ته د هغه ګناه نه چه پوهیږم په او د هغه ګناه نه چه نه یم پوهه په
بیشک لس ته قدرے ډیر څه پوهیدونکے په تمامو هغو چه د مخلوق
نه پناه دی او لس ته تے پرده اچونکے په عیبونو د مخلوق او بخو
نکے د ګناهونو ئے او نشته توان م د واپس کیدو د بدو نه او نه طاقت
م د نیکو لیکن په مدد د الله تعالیٰ چه اوچت او لوئے دے

شپږم کلمه رد کفر
اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَعُوْذُ بِكَ مِنْ أَنْ أُشْرِكَ بِكَ شَيْئًا وَّأَنَا أَعْلَمُ بِهٖ وَأَسْتَغْفِرُكَ لِمَا لَا أَعْلَمُ
بِهٖ تُبْتُ عَنْهُ وَتَبَرَّأْتُ مِنَ الْكُفْرِ وَالشِّرْكِ وَالْكِذْبِ وَالْغِيْبَةِ
وَالْبِدْعَةِ وَالنَّمِيْمَةِ وَالْفَوَاحِشِ وَالْبُهْتَانِ وَالْمَعَاصِيْ كُلِّهَا وَ
أَسْلَمْتُ وَاٰمَنْتُ وَأَقُوْلُ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ
اللهِ ط اے الله پناه غواړم ستا د دینه چه برخه پیدا کړم ستا سره
(په تعظیم کښی) د چا چه په پوهه یم او بخنه غواړم ستا نه د هغے چه په
نه یم پوهه توبه م اووځکه او بیزار شوم د کفر او شرک او د دروغو
او د غیبت او بدعت او د چغلی او د بے حیائی د کارونو نه او د بهتان

نه (په چا) اود تولو کنا هونو نه او تابع شوم ستا د حکمونو او ایمان م راوړی
اووایم لآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ ط

اذانؑ " اذان سنت مؤکده اود اسلام د شعائرو نه (نخونه) یوه لویه نخه ده د الله تعالیٰ د لویٔ اعلان دے اذان فرض مانځه له وقتی وی اوکه قضا ادا کوی په جماعت وی اوکه یواځۍ کور وی اوکه باهر تو لو له سنت مؤکده دے اود هغه شان اقامت هم

کلمات ، د اذان پنځلس دی . څلور تکبیرونه اول . څلور شهادتونه د توحید اود رسالت ، څلور خیعلتین (یعنی حَیَّ عَلَی الصَّلاة حَیَّ عَلَی الفَلَاح) بیا دوه تکبیرونه بیا لآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ط

د اقامت کلمات ، ولس دی پنځلس د هغه او دوه کلمے پس ده خیعلتینو نه دوه وارے قَدْ قَامَتِ الصَّلٰوۃ اے حاضرینو مونځ اودریدل

معنٰے او مطلب ئے اَللّٰهُ اَکْبَرُ . الله تعالیٰ ډیر لوی دے دهر چانه (په علم کښې) اَللّٰهُ اَکْبَرُ . الله تعالیٰ ډیر لوئے دے د هر چانه (په قدرت کښې) اَللّٰهُ اَکْبَرُ . الله تعالیٰ ډیر لوئے دے د هر چانه (په قدرت کښې) اَللّٰهُ اَکْبَرُ . الله تعالیٰ ډیر لوئے دے دهر چانه (په حق د عبادت او تعظیم کښې)

اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ د زړه نه اقرار کوم او اعلان کوم چه نشته دے څوک پوهه په غیبو اقدرت والا بے اسبابو بے د الله تعالیٰ نه

اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ط د زړه نه اقرار کوم او اعلان کوم چه نشته دے څوک لائق د بلنے په غیبه او لائق د عبادت بے د الله نه

اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ ط د زړه نه اقرار کوم او اعلان چه محمد علیه السلام (په دی مسئله باندے) رالیگلے شوید ے

اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ ط د زړه نه اقرار کوم او علان چه محمد علیه السلام (په دی اعلان د نیا ته) رالیگلے شوید ے

حَیَّ عَلَی الصَّلٰوۃ حَیَّ عَلَی الصَّلٰوۃ ط

راشی (په دی عقیده) مانځه یعنی د الله تعالیٰ تعظیم له د هر طرف نه

حَیَّ عَلَی الفَلَاح حَیَّ عَلَی الفَلَاح ط

راشی کامیابی له (یعنی دی عقیدے او عمل له) د هر طرف نه

اَللّٰهُ اَکْبَرُ ط الله تعالیٰ ډیر لوئے دے د هر چانه (په علم او په قدرت کښې) اَللّٰهُ اَکْبَرُ ط الله تعالیٰ ډیر لوئے دے د هر چانه (په حق د بلنے او په حق د تعظیم) لآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ط نشته څوک لائق د هیڅ قسم عبادت بے د الله تعالیٰ نه

خیعلتین ، دوه وارے مخکه دی چه موذن یو خوا او بل خوا مخکی چه ده هر طرف خلقو له د دی عقیدے او عمل د عوت ورکی

ضروری او فائده منے خبرے موذن له پکار دی چه د بانگ ختمولو نه پس درود شریف اود عاء وسیله او وائی او ځان له او مومنانو له دعا او غواړی بے د لاسو اوچتولو نه

داو ریدونکی د بانگ ذمه واری د بانگ اوریدونکی له دا

لاندې درج کاروونه کول پکار دي

(۱) هر عمل باندې چه نګیاوي بې د مانځه یا درس نه نو هغه د د بانګ د ختمېدو پورې موقوف کي

(۲) د موذن سره د د بانګ کلمات او وائي (رواه الجماعة عن ابي سعيد رض) او یا د خیعلتینو په ځائې لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيْمِ ځلور وار هم او وائي (رواه مسلم و ابوداود عن عمر رض)

(۳) د بانګ په ختم د دعاء الوسيلة او وائي (رواه البخاري عن جابر رض)

اَللّٰهُمَّ رَبَّ هٰذِهِ الدَّعْوَةِ التَّامَّةِ وَالصَّلٰوةِ الْقَائِمَةِ اٰتِ مُحَمَّدَ نِالْوَسِيْلَةَ وَالْفَضِيْلَةَ وَابْعَثْهُ مَقَامًا مَّحْمُوْدَا نِالَّذِيْ وَعَدْتَّهٗ اِنَّكَ لَا تُخْلِفُ الْمِيْعَادُ

ه اې الله مالک د دې کامل بللنې او مالک د دې او د ریدونکي مونځ ورکه محمد علیه السلام ته او چته درجه او غوره والې او مقرر کې په ستایلې شوي مقام (یعنی د شفاعت کبریٰ مقام) هغه چه تا ورسره وعده کړیده بې شک ته خلاف نه کوي د وعدې نه

(۴) رَضِيْتُ بِاللّٰهِ رَبًّا وَّبِالْاِسْلَامِ دِيْنًا وَّبِمُحَمَّدٍ نَّبِيًّا عليه الصلوة والسلام

خوښ یم په الله د پالنې په جوړ او په اسلام د دین په جوړ او په حضرت محمد ص د پیغمبر په جوړ

(۵) دعا کول

(۶) فی الحال د مانځه تیاري شروع کول

د سحر بانګ کښې د خیعلتینو نه پس به دوه وارې موذن اَلصَّلٰوةُ خَيْرٌ مِّنَ النَّوْمِ „ مونځ غوره دې (د غفلت) د خوبه نه (اې غافلانو) کلمات

وائي چه هر طرف ته خلقې واوري د دې جواب به او ریدونکي په صَدَقْتَ وَبَرَرْتَ (رشتیا وائې او د نیکي خبره وائې) سره دوه وارې درکوي

بدعات په بانګ کښې

د بانګ نه مخکې یا روستو په رواجي طریقه صلوٰة وسلام ویل۔ د بانګ نه روستو دعا کښې لاسونه او چتول په بانګ یا اقامت کښې په ځنو کلماتو ګوتې ته خکلول دا کاروونه ټول څه نه دي د سنت نه خلاف دي۔ د بانګ د ختمولو نه پس بسم الله الرحمن الرحيم ویل او بیا کلمه طیبه ویل او لاسونه په مخ را خکل بدعت دې۔ ځنې موذنان چه بانګ ختم کي نو د لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ سره روستو په رو باندې مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ هم وائي دا هم بدعت دې

موذن

پکار ده چه موذن نیک سړې وي د وختونو نو د مانځه نه خبردار وي بهتره دا ده چه خالص د الله تعالیٰ د رضا د پاره بې اُجرتې وائي

امامت

مونځ د اول نه مقرر په جماعت سره د دې بې جماعت نه مونځ ناتمام دې جماعت سره مونځ کول واجب دي بې د څه عذر نه جماعت پریخودل منافقي ده د جماعت په مانځه کښې ډیر لوئې برکات دي د جماعت مونځ کښې ثواب هم ډیر دې او د قبلیدو ئې هم ډیر امید دې جماعت صرف د فرضو نه، یا د واجبو یا د ځنو نفلونو د پاره کیږي د عا موسنتو نوافلو او واجباتو جماعت نشته

د امامت د مونځ فضائل

عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا قَالَ اِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

قَالَ صَلٰوةُ الْجَمَاعَةِ تفضل صَلٰوةَ الْفَذِّ بِسَبْعٍ وَعِشْرِيْنَ دَرَجَةً رواه الشيخان

ابن عمر رضی اللہ عنہ وائی چه رسول اللہ علیہ السلام ویلی دی مونځ د جماعت د ځانله مانځه نه اوویش درجې غوره دے

وفی روایۃ ابن مسعود رضی اللہ عنہ مرفوعًا عند احمد بضع وعشرون درجۃ (اسنادہ صحیح) وفی روایۃ انس رض مرفوعًا عند البزار خمسًا وعشرین صلاۃ (اسنادہ صحیح)

حضرت ابن مسعود رض وائی چه پیغمبر علیہ السلام ویلی دی چه د جماعت مونځ د ځانله مونځ نه څه د پاسه صاحب وائی چه اتیش درجې غوره دے د جماعت مونځ حضرت انس رض

ثواب د خلقو په ډیریدو زیاتیگی او چه امام نیک او عالم او قاری وی نو ثواب ئے نور هم زیاتیگی. عَنْ اُبَیِّ بْنِ کَعْبٍ رض اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صلی اللہ علیہ وسلم قال صلوٰۃ الرَّجُلِ مع الرجل ازکیٰ من صلوٰتہ وحدہ وصلوٰتہ مع الرجلین ازکیٰ من صلوٰتہ مع الرجل وما کثر فھو اَحَبُّ الی اللہ۔ ابوداؤد (اسنادہ صحیح) حضرت ابی ابن کعب رض صاحب وائی چه رسول اللہ علیہ السلام وائی: مونځ د بنده یو بنده سره غوره دے د ځانله مونځ نه ئے او مونځ ئے د دوه تنو سره غوره دے د مونځ نه ئے د یو تن سره او چه څومره زیاتیگی نو اللہ تعالیٰ ته زیات محبوب وی

عَنْ اَبِیْ مسعودٍ رضی اللہ عنہ قال قال رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم یَؤُمُّ الْقَوْمَ اَقْرَاُهُمْ لِکِتَابِ اللّٰہِ تعالیٰ فان کانوا فی القراءۃ سوآءً فاعلمھم بالسنۃ فان کانوا فی السنۃ سوآءً فاقدمھم ھجرۃً فان کانوا فی الھجرۃ سوآءً فاقدمھم سِنًّا الحدیث رواہ مسلم، حضرت ابو مسعود رض صاحب وائی چه نبی علیہ السلام وائی د امامئی کولو دے خلقو هغه چه په قرآن ښه پوهیگی او چه په علم د قرآن کښی یو شان وی نو بیا هغه څوک چه په سنت (د طهارت۔ مانځه۔ جماعت) ښه پوهیگی

او چه په دے کښی هم برابر وی نو بیا هغه چه کنا هو نه ئے مخکے پریخی وی او چه د بدو ځایو نو او د بدو خلقو نه ئے هجرت د نورو نه مخکے کړے وی

عَنْ اَبِیْ سَعِیْدٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا كَانُوْا ثَلٰثَةً فَلْيَؤُمَّهُمْ اَحَدُهُمْ وَاَحَقُّهُمْ بِالْاِمَامَةِ اَقْرَأُهُمْ (احمد مسلم نسائی)

حضرت ابو سعید رض صاحب وائی چه رسول اللہ علیہ السلام وائی کله چه مانځه گذار درے تنه وی نو امام د شی د دوی نه یو تن او لائق د امامتی هغه دے چه په قرآن ښه پوهیگی

ضروری مسئلے

کوم مسلمان چه مونځ د سنت طریقے نه خلاف کوی په هغه پسے جماعت کښی شریکیدل نه دی پکار دهغه شان چه په څرگنده د گناه په کار کښی اخته وی او کوی ئے نو مونځ ورپسے نه دے پکار مونځ ادا شی خو شریکیدل ورسره گناه دے اللہ تعالیٰ وائی

لَا يَنَالُ عَهْدِی الظّٰلِمِيْنَ ط البقرة ۱۲۴ - هٰذَا يَدُلُّ اَيْضًا عَلٰى اَنَّ اَئِمَّةَ الصَّلٰوةِ يَنْبَغِیْ اَنْ يَّكُوْنُوْا صٰلِحِيْنَ غَيْرَ فُسَّاقٍ وَلَا ظٰلِمِيْنَ احکام القرآن للجصاص ص۶۹

د آیت دلیل دے چه امام د مانځه پکار ده چه نیک سړے وی نه فاسق او ظالم وانہ (الفاسق) لا يقدم للصلوٰة وَاِنْ كَانَ لَوْ تَقَدَّمَ وَاقْتَدٰى بِهٖ مُقْتَدٍ كَانَتْ صَلَاتُهٗ مَاضِيَةً (احکام ج۱ ص۷) او د دا تر نه معلوم شوه چه فاسق به امامت ته نشے مخکے کولے او که مخکے شو او چا ورپسے مونځ او که نو مونځ ئے شویدے اللہ تعالیٰ وائی وَلَا تَرْكَنُوْٓا اِلَى الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا فَتَمَسَّكُمُ النَّارُ ط. هود ۱۱۳ مراو په ئے هغوته چه ظلم کوی (یعنی د دین نه خلاف کار کوی) نو او به رسی درته اور (یعنی سزا) او سزا په گناه ورکیگی

نو معلوم شوه چه د سنت د نبی علیه السلام نه خلاف چلیدونکے امام ظالم دے او مونځ ورپسے کول ګناه دے او سبب د عذاب دے امام ابو حنیفه رح وائی نه صحیح کیګی مونځ په هغه امام پسے چه په خپل جوړ چلیګی بے د شریعت د خونے نه او په بدعت کونکی امام پسے (بدائع ص ۱۵۷ ج ۱)

بدعت مَا اُحْدِثَ عَلٰی خِلَافِ الْحَقِّ الْمُتَلَقّٰی عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مِنْ عِلْمٍ اَوْ عَمَلٍ اَوْ حَالٍ (مراقی الفلاح مع الطحطاوی ص ۱۶۵)

یعنی کوم کار چه د نبی علیه السلام نه د ثابت شوے اور را رسیدلے خبرے نه خلاف پیدا کړے شی علم وی او که عمل وی او که حال وی په څه شبه یا څه ګنړلو سره د صحابه و رضی الله عنهم طریقه د نبی علیه السلام نه د ثابت شوی دین شرح ده ځانله څه مستقل شی نه دے هغه هم په دین کښ د ننه ده

بدعت علمی لکه د الله تعالیٰ په قیامت یا جنت کښ د لیدو نه انکار کول. د قبر د عذاب یا د خوشحالے نه انکار کول یا د بدعت عملی څه ګنړل شو

بدعت عملی لکه ځنے وظیفے شوے خلاف د منقول نه درود تاج د صلوٰة والسلام ځنے کلمے یا شیخ عبدُ القادر جیلانی شیئاً لله صرف د ورد او وظیفے په طور ویل. غلط د مونځ د بانګ نه مخکے صلوٰة والسلام یا روستو په دے رواجی طریقه د جمعے د مانځه نه مخکے یا روستو صلوٰة والسلام په رواجی طریقه خو هله چه عقیده ئے د حاضر و ناظر یا د اورید و په خپله د نبی علیه السلام په باره کښ نه وی کنه بیا شرک دے مصافحه د حاضرینو دیوبل

سره یا د امام سره د سحر یا د ماخوستن یا جمعے یا اخترونو نه پس یا رواجی فاتحه مړی پسے په رواجی طریقه څه پخول ختم له جمع کیدل او څه په خوړل عرس میلاد د محرم میاشته کښ تعزیه علم ذوالجناح جلوس وخکل مجالس هلماتم کول د امام یا پیر سره د سلام کولو نه پس په شا تلل د امام صاحب په محراب کښ سنت کول په جمع باندے د رواجی دعا کول بانګ یا اقامت کښ په ګوتو کلما تو ګوتی خکول په غلطه طریقه قبرو ته تلل په جمع یا په جهر ذکر یا دعا کول قبرو نه پاخه جوړول ګنبدونه په جوړول غلاف په اچول جنډے په اودرول وغیره مِمَّا لَا يُحْصٰى الْيَوْمَ دا ټول کارونه د ګناه دی او بدعات عملیه دی ځان ساتل تر نه فرض دی

بِدْعَاتِ حَالِیَه په ځان جذبه را ولیستل خبرے نه کول د ثواب په نیت ذکر په ځان ټکول وغیره د دے اعمالو والا امام پسے مونځ کول خه نه دی او د امام صاحب رح په قول روا نه دی بیا به ئے اعاده کوی

فقهی روایات وَاِمَامَةُ صَاحِبِ الْهَوٰی وَالْبِدْعَةِ مَكْرُوْهَةٌ نَصَّ عَلَيْهِ اَبُوْ يُوْسُفَ رح فِي الْاَمَالِي ـ قَالَ بَعْضُ مَشَايِخِنَا الصَّلٰوةُ خَلْفَ الْمُبْتَدِعِ لَا تَجُوْزُ ـ وَذَكَرَ فِي الْمُنْتَقٰی رِوَايَةً عَنْ اَبِي حَنِيْفَةَ رح اَنَّهُ كَانَ لَا يَرَى الصَّلٰوةَ خَلْفَ الْمُبْتَدِعِ (بدائع الصنائع ص ۱۵۷ ج ۱) او امامت په خپل طبیعت روان پسے او د بدعت والا مکروه د ابو یوسف رح امالی کښ ویلی دی ځنو مشائخو زمونږ ویلی دی چه مونځ په بدعت والا پسے نه روا کیږی ذکر کړے دے روایت په منتقی کښ د امام صاحب رح چه دے روا نه ګنړی مونځ په بدعت والا پسے وَالْمُبْتَدِعُ صَاحِبُ الْكَبِيْرَةِ وَالْبِدْعَةِ

كَبِيْرَةٌ (بزازیه مع العالمگیریه ج۶ ص۳۱۹) او مبتدع گناه کبیره والا دے او بدعت
گناه دے إِذَا سَلَّمَ الْاِمَامُ تَأَخَّرَ وَتَقَدَّمَ الْقَوْمُ (یعنی اذا اراد التطوع) (کتاب
الآثار لابی یوسف رحمه الله) کله چه امام سلام اوګرځوی د فرضونو روستو به شی د
سنت د پاره د قوم نه

فاسق هغه دے چه د دین خلاف کارکوی او ثواب ئے نه ګڼړی لکه چه
ږیره خروی د موټی نه ئے لنډه وی د س ویښته د غیر قومونو په نمونه جوړوی
کور والا ئے پرده نه کوی سینما ګوری یا بل د څه عبث کار عادت لری وغیره
الله تعالیٰ دِ ټول مسلمانان محفوظ اوساتی

مونځ شرائط د مانځه د هر عمل د پاره د مخکے نه ضروری څیزونه دی
چه بے د هغے نه هغه عمل نشی موجود یدا ے هغے ته شرطونه ویلی شی
د مانځه د پاره هم شرطونه دی (اول وقت دے) إِنَّ الصَّلٰوةَ كَانَتْ عَلَى
الْمُؤْمِنِيْنَ كِتَابًا مَّوْقُوْتًا (النسآء ۱۰۳) بے شک مونځ دے په ایماندارو فرض په
وقت وقت) د وقت د کیدو نه مخکے فرض مونځ یا د هغے تابع سنن او واجبات
نه کیګی او د وقت د وتو نه پس قضا شی فرض مونځونه پنځه دی نو وقتونه
ئے هم پنځه دی معلومول ئے ضروری دی چه مونځ بے وقت نشی د مانځه
قضا کول ډیر لوئے ګناه دے الله تعالیٰ د هر ایماندار له د مانځه په صحیح
طریقه په وقت د کولو همت ورکی

دوهم نیت یعنی د زړه په اراده سره خالص د الله تعالیٰ د پاره ئے
کول هیڅ یو عمل د دین بے د نیت نه نه قبلیګی الله تعالیٰ وائی فَاعْبُدِ

مُخْلِصًا لَّهُ الدِّيْنَ أَلَا لِلّٰهِ الدِّيْنُ الْخَالِصُ (زمر ۲) نو عبادت اوکه الله لره د زړه
نه خاص هغه لره کونکے د دین خبر شه خاص الله لره دے دین (هغه) چه
د زړه نه خاص یواځے هغه لره اوشی او الله تعالیٰ وائی وَمَا اُمِرُوْا اِلَّا
لِيَعْبُدُوا اللّٰهَ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ (البینه ۵) او چرے نه وو ورته ویلے شوی لیکن د دی چه
اوکی د الله د زړه نه کونکی خاص هغه لره دین کلک په دے عقیده
عن عمر بن خطاب رض قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم انما الاعمال
بالنيات وانما لامرئ ما نوى (متفق علیه) حضرت عمر صاحب رض وائی چه رسول
علیه السلام ویلی دی بے شک (قدر) د عملونو په نیتونو دے او بے شک
بنده (ثواب) د هغه عمل دے چه نیت ئے وی

دریم طهارت .. پاکول د تنے او جامے او ځائے د مانځه ضروری
دی د تنے پاکول دوه قسمه دی یو د پلیتی نه اوبل د لوئے او وړے بے
اودسی نه د پلیتئ نه د تنے د هغه ځائے وینځل فرض دی او د بے اودسی نه غسل
یا اودس فرض دے که معذور نه وی ..

د جامے پاکول وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ (المدثر ۴) او جامے د پاکے که
د ځائے پاکول طهرا بيتى لِلطَّآئِفِيْنَ وَالْعَاكِفِيْنَ وَالرُّكَّعِ السُّجُوْدِ (بقره ۱۲۵)
پاک او ساتے دا کورم طواف کونکو او چله وخکونکو او رکوع او سجدے والاؤ له
طَهِّرْ بَيْتِيَ لِلطَّآئِفِيْنَ وَالْقَآئِمِيْنَ وَالرُّكَّعِ السُّجُوْدِ (حج ۲۶) پاک او ساته کور
دا د پاره د طواف والاؤ او د پاره د او دریدونکو او د پاره د رکوع او سجدے
والاؤ

څلورم ګنے پاکول د وړے بے اودسی نه اودس ضروری دے يَآ اَيُّهَا

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اِذَا قُمْتُمْ اِلَى الصَّلٰوةِ فَاغْسِلُوْا وُجُوْهَكُمْ وَاَيْدِيَكُمْ اِلَى الْمَرَافِقِ
وَامْسَحُوْا بِرُءُوْسِكُمْ وَاَرْجُلَكُمْ اِلَى الْكَعْبَيْنِ (المائدہ ۶) اے
ایماندارو کله چه د مانځه اراده اوکړئ (اودس خه نه وی) نو وینځئ مخونه خو او
لاسونه هنه او مسح اوکړئ په سرونو هنه او وینځئ خپې هنه سره د پړکونه

فرائضِ داودس اودس کښې هم څلور فرض دی ۱ مخ لول
۲ لاسونه سره د متهو او څنګلو د سرولو نه ۳ او مسح د سر کم از کم
څلورمه حصه ۴ او خپې اینځل سره د پړکونه چه د اینځلو په اندامو
نو کښې دیو ویخته ځائے وچ پاتے نشی که اودس اونه شو۔ که ګیره ئے
ډیره ګنړه وی نو بیا کښې اینځل ئے معاف دی

غسل د جنابت یا حیض و نفاس نه الله تعالیٰ وائی
وَاِنْ كُنْتُمْ جُنُبًا فَاطَّهَّرُوْا (المائدہ ۶) او که وئ تاسو په لوئه
بے اودسی کښې نو ځان خه پاک کړئ

فرائضِ د غسل په غسل کښې درے فرض دی ۱ (مضمضه) یعنی خولے
ته اوبه اچول او پاکول ۲ (استنشاق) یعنی پوزے ته اوبه
راخکل او بیائے پاکول ۳ د ټولے تنے وینځل مکمل چه دیو ویخته ځائے
تره پاتے نشی عن ابی مالک الاشعری رض قال قال رسول الله
صلی الله علیه وسلم الطهور شطر الایمان (الحدیث متفق علیه)
صفائی او پاکی نیم حصه ده د ایمان۔ عن عثمان رضی الله عنه
قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من توضأ فأحسن الوضوء
خرجت خطایاه من جسده حتی تخرج من تحت اظفاره (الحدیث متفق علیه)

چاچه اودس اوکه او صحیح ئے اوکه نو ځنی ګناهونه ئے د تنے نه ئے تر دے
چه لاندے د نوکو نه ئے هم په ایمان سره د بنده زړه صفا شی او په طهارت
سره ئے تنه صفا شی

د پلیتئ نه د تنے پاکول الله تعالیٰ فرمائیلی دی اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ التَّوَّابِيْنَ
وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِيْنَ (البقرہ ۲۲۲) بے شک الله تعالیٰ مینه کوی د بد و نه
واپس کیدونکو سره او مینه کوی د ځان پاکونکو سره او وائی الله تعالیٰ
فِيْهِ رِجَالٌ يُّحِبُّوْنَ اَنْ يَّتَطَهَّرُوْا وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُطَّهِّرِيْنَ (توبہ)
شته دے هغه ځائے نارینه چه ځان خه پاکوی او الله تعالیٰ محبت کوی د
ځان خه پاکونکو سره

تیمم که بنده معذور وی نو په ضرورت باندے تیمم د غسل او
اودس د واړو په ځائے کولے شی په تیمم کښې درے کارونه فرض دی ۱
نیت ۲ بل په مخ مسح کول او بل په متهو ۳ مسح کول خو هله چه په پاکه
خاوره د واړه لاسونه کیدی او بیائے په مخ را کاږی او بیا ئے په پاکه خاوره
کیدی او په متهو ئے مسح کی د مخ او د متهو هغه هره فرض ده خو مره چه ئے
اینځل فرض دی نیت خو په هر عمل کښې ضروری دے خو که د غسل یا اودس
په وخت ئے نیت نه وی او بے د ارادے د عبادت کولو نه ئے اوکی نو وجود
ئے پاک شو عبادت په کیدے شی خو تیمم که ئے بے د مقصودی عبادت
د ارادے نه اوکه نو او نه شو الله تعالیٰ وائی فَتَيَمَّمُوْا صَعِيْدًا طَيِّبًا
فَامْسَحُوْا بِوُجُوْهِكُمْ وَاَيْدِيْكُمْ مِّنْهُ (المائدہ ۶) نو اراده اوکړئ د خاورے
پاکے نو مسح کړئ په مخونو هنه او په لاسونو هنه د هغے نه

اودس او تیمم پکار دی چه په هغه طریقه او ترتیب اوشی چه آیت شریف کښې ذکو شویدی او هر اندام په بل پسې فی الحال وینځلے شی یا مسح شی یعنی په ترتیب او ولاء سره اوشی په اول کښې بسم الله والحمد لله ویل هم پکار دی او هر اندام درے درے وارے اینځل سنت دی مسح په ټول سر پکار ده سره د غوګونو ډکوتو خلال هم پکار دے او که ګیره ئے ګنړه وی نو د هغے خلالول هم سنت دی په چارا اندام کښې مخ په قبله کینا ستل او د ښی اندام نه شروع کول او په مینځ د چارا اندام کښې دا دعا ویل رَبِّ اغْفِرْلِي ذَنْبِي وَوَسِّعْ لِي دَارِي وَبَارِكْ لِي فِي رِزْقِي هم غوره دی

اے ربه زما اوبخه زما ته ګناه زما او لوئی که لاله کور زما (د نیا او د آخرت) او برکت واچوه رزق کښې زما

او د فارغ کیدو نه پس د دا کلمه شهادت او وائی أَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْكَ لَهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ او دا دعا او لولی ـــ اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنِي مِنَ التَّوَّابِيْنَ وَاجْعَلْنِي مِنَ الْمُتَطَهِّرِيْنَ ---- اے الله که ما د توبه وختکونکو نه او که زما د ځان پاکونکو نه ـــ ـــ ـــ چه بنده کامل اودس اوکی او دا تشهد ورپسے او وائی نو د جنت اته واړه دروازے ورته پرانستے شی چه په کومه ئے خوښه وی ننوځی نو داخل به شی (مسلم ترمذی) عن ابی هریرة رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم اذا توضأتم فابدأوا بميامنكم (رواه الاربعة وصححه ابن خزيمة)

چه اودس کوئے نو په ښی اندام شروع کوئ

مسواک کول سنت دی پاکی هم ده او ثواب هم عن عائشة رضی الله عنها قالت قال رسول الله صلی الله علیه وسلم السواك مطهرة للفم مرضاة للرب (بخاری معلقا)

مسواک کول د خولے پاکی او د رب رضا ده ـــ ـــ ـــ خلورم شرط د وجود پټول قال الله تعالیٰ یا

بَنِيْ آدَمَ خُذُوْا زِيْنَتَكُمْ عِنْدَ كُلِّ مَسْجِدٍ (اعراف ۳۱) وَلَا يُبْدِيْنَ زِيْنَتَهُنَّ (نور)

اے انسانانو واخلئ جامه هغه په وخت د هر مانځه کښې ،، او نه دی ښکاره کوی خاښته خپل

پنځم استقبال قبله " یعنی قبلے شریفے ته مخ کول فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَحَيْثُ مَا كُنْتُمْ فَوَلُّوْا وُجُوْهَكُمْ شَطْرَهٗ (بقره ۱۴۴)

نو اوګرځوه مخ د یه طرف د عزتمند جماعت ،، او چیرته چه یئ نو ګرځوئ مخونه ښه د ده طرف ته

شپږم تکبیر تحریمه یعنی د نیت سره متصل اَللّٰهُ اَكْبَرُ ویل (یاد دی معنی والا بله کلمه) ویل ، الله تعالیٰ وائی وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ (مدثر ۳) او وائی وَذَكَرَ اسْمَ رَبِّهٖ فَصَلّٰى (اعلیٰ ۱۵)

او د رب لوئی اووایه

او یاد کړی نوم د الله نو بیا د مونځ اوکی

تنبیه د اشرطونه د ځنے عذرونو په وجه د نمے نه ساقطیګی کله ۲ و په دی شرطونو کښې تفصیل هم دے د علماو نه ئے معلوموله شی

د مانځه ارکان

هغه کارونه چه په مانځه کښې د ننه دی او مونځ بے د هغے نه کیګی ارکان د مانځه پنځه دی (قیام) ۱ قُوْمُوْا لِلّٰهِ قَانِتِيْنَ (البقره ۲۳۸)

او د ریګئ الله ته تابعدار

قراءت ۲ فَاقْرَءُوْا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْاٰنِ (مزمل ۲۰) رکوع ۳ او سجده ۴

نو او لولئ هغه چه درته آسان وی د قرآن نه

يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوا ارْكَعُوْا وَاسْجُدُوْا (حج ۷۷) قعده اخیره په قدر د تشهد

اے ایماندارو رکوع او سجده اوکړئ

روی عن رسول الله صلی الله علیه وسلم انه قال الاعرابی

روایت دے چه نبی علیه السلام اعرابی ته د مانځه طریقه

الذی علم الصلوٰة اذا رفعت رأسك من آخر السجدة وقعدت قدر التشهد فقد تمت صلوتك (بدائع ص ۱۱۳)

او خودله نو اوئے وے ورته چه سر [illegible] پورته کړے د آخری سجدے نه او کینے په قدر د تشهد نو بے شکه پوره شو مونځ

د مانځه پوره کیدل ئے په قعده ئے اخیره پورے بند کړی دی په مانځه کښې فاتحه شریفه لوستل ضروری دی د سورة نه مخکے فرض دوه

کښې قرأت فرض دے او په نفلو سنتو او دواجبو تولو رکعتونو کښې قرأت فرض دے د ماخه نه په خپل اختیار وتل او په السلام علیکم ورحمة الله وتل ضروری

دی باقی واجبات او سنتونه د عالمانو نه معلوم ولیدے شی

تکبیر اول : اَللّٰهُ اَکْبَرُ ؛ الله تعالیٰ ډیر لوئے دے) نو هر څه د هغه په نوم پیدا

د مانځه کلمات او معنیٰ ئے

(ثنا)

سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ وَتَبَارَكَ اسْمُكَ

پاک ذکر نوم پاکی ستا لائق دے الله او کوم کړے یم صفتونه ستا او ډیر برکتی دے (یادد) نوم ستا

وَتَعَالٰی جَدُّكَ وَلَآ اِلٰهَ غَیْرُكَ ط

او ډیر لوئے دے شان ستا او نشته څوک لائق د هیڅ قسم بندګی بے لتا نه

تعوذ | اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ه

پناه له (امان له) لاړم او د الله تعالیٰ د پاره د شر کیدو) د شیطان لعنتی شوی نه

تسمیه | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

(شروع کوم) په (یادد) نوم د الله چه ډیر مهربان بے حساب رحم کوونکے

سورة فاتحه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ه

ټول د خدا اشو به صفتونه یک یو د الله چه پالونکے د هر قسم مخلوق دے (د هغه د فطرت مطابق)

اَلرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ه مٰلِكِ یَوْمِ الدِّیْنِ ه

غټ مهربان د اول راسی رحم کونکے دے | واکدار د ورځے د انصاف دے (نه بل څوک) موږ یه

اِیَّاكَ نَعْبُدُ وَاِیَّاكَ نَسْتَعِیْنُ

دی عقیده) بس صرف ستا قدرے کامل بندګی کوو (نه د بل چا) (موږ)

اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِیْمَ ه صِرَاطَ

کلک که ملګ پیدی سمه لارے | لار د هغه (بزرګانو)

الَّذِیْنَ اَنْعَمْتَ عَلَیْهِمْ غَیْرِ

بندیانو | چه تا په | انعام کړے دے (د کلکون پیدی عقیده او پیدی عمل) نه لار

الْمَغْضُوْبِ عَلَیْهِمْ وَلَا الضَّآلِّیْنَ آمین

د هغه چا چه غضب کړے شوے (په سبب د شرک او بدعت) او نه د ورکو شوی (د قرآن و سنت نه) اے الله قبول که

سورة اخلاص ۞ قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ ه اَللّٰهُ الصَّمَدُ ه

دا زاری چی نبی | اعلان او که هغه چه د مسلم عقیده لرم الله د یکتائی ، الله دے په هر څه پوره (او مخلوق)

لَمْ یَلِدْ وَلَمْ یُوْلَدْ ه وَلَمْ یَکُنْ لَّهٗ کُفُوًا اَحَدٌ ه

(دته نیم کړے دے) نه ئے څوک نه زیګولے دے (بچه نه لری) او نه د چا نه زیګیدلے دے (پلار مور نه لری) او نشته

دے چرے هم سیال ئے (برابر) هیڅ څوک)

(اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِکَاتِبِهٖ وَلِمَنْ سَعٰی فِیْهَا)

تکبیر اَللّٰہُ اَکْبَرُ تسبیح سُبْحَانَ رَبِّیَ الْعَظِیْمِ

پاک منم رب خپل چه ډیر لوی دے

تسمیع سَمِعَ اللّٰہُ لِمَنْ حَمِدَہٗ مستحب کم از کم درے وارے

اوری ( ) اللہ پاک د هغه چا چه کامل ستائنه کوی

تحمید رَبَّنَا لَکَ الْحَمْدُ تکبیر اَللّٰہُ اَکْبَرُ تسبیح

(تو څه وایم) اے رب څونږ یکے تا لره دی ټول صفتونه

سُبْحَانَ رَبِّیَ الْاَعْلٰی مستحب کم از کم درے وارے تکبیر اَللّٰہُ اَکْبَرُ

پاک منم رب خپل چه اوچت دے

تکبیر اَللّٰہُ اَکْبَرُ تسبیح کم از کم درے وارے تکبیر اَللّٰہُ اَکْبَرُ

التحیات — اَلتَّحِیَّاتُ لِلّٰہِ وَالصَّلَوٰتُ وَالطَّیِّبَاتُ

ټولے ستائنے ژبه کید نکی عبادتونه او ټولے د اللہ دی او ټول مونځونه په تنه

اَلسَّلَامُ عَلَیْکَ اَیُّهَا النَّبِیُّ وَرَحْمَۃُ اللّٰہِ وَبَرَکَاتُہٗ

کید نکی عبادتونه او ټول مالی عبادتونه هم نو دی عقیدے نه پس (وایم) سلامتیا دی په تا باندے اے دلوے مرتبے

اَلسَّلَامُ عَلَیْنَا وَعَلٰی عِبَادِ اللّٰہِ الصّٰلِحِیْنَ

والا پیغمبره مهربانی د اللہ هم او خیرونه هم (او) سلامتیا دی که په مونږ باندے او په ټولو نیکانو بندیانو د اللہ هم

تشهد اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰہَ اِلَّا اللّٰہُ وَاَشْهَدُ اَنَّ

د زړه نه وایم چه نشته دے څوک حاجتونه سرکونکے بے د اللہ نه او د زړه نه وایم چه محمد علیه

مُحَمَّدًا عَبْدُہٗ وَرَسُوْلُہٗ

علیه السلام د اللہ بنده (بشر او محتاج) او د هغه طرف نه دین رسونکے دے

درود شریف اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِ

اے اللہ لویه مهربانی اوکه په محمد او د هغه په تابعدارانو باند

مُحَمَّدٍ کَمَا صَلَّیْتَ عَلٰی اِبْرَاهِیْمَ وَعَلٰی اٰلِ اِبْرَاهِیْمَ اِنَّکَ

لکه چه مهربانی د کړے وه په ابراهیم علیه السلام او د هغه په تابعدارانو باندے بے شک ستا لوئی شته

حَمِیْدٌ مَّجِیْدٌ اَللّٰهُمَّ بَارِکْ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِ مُحَمَّدٍ کَمَا بَارَکْتَ عَلٰی اِبْرَاهِیْمَ وَعَلٰی اٰلِ

عزت منل دے ،، اے اللہ برکتونه (ډیر فیضونه) اکړه په محمد علیه السلام او د هغه په تابعدارانو باندے لکه چه برکتونه دی کړی

اِبْرَاهِیْمَ اِنَّکَ حَمِیْدٌ مَّجِیْدٌ دعا اَللّٰهُمَّ رَبَّنَآ اٰتِنَا فِی الدُّنْیَا حَسَنَۃً وَّفِی الْاٰخِرَۃِ حَسَنَۃً وَّقِنَا عَذَابَ النَّارِ

وو په ابراهیم او د هغه په تابعدارو لے اے اللہ رب څونږ ورکه اللہ په دنیا کښ خائسته مزے او په آخرت کښ هم خائسته مزے او مونږ که

دعاء قنوت اَللّٰهُمَّ اِنَّا نَسْتَعِیْنُکَ وَنَسْتَغْفِرُکَ وَنُؤْمِنُ

منک د عذاب د دوزخ نه   اے اللہ ستا نه قدرے مدد غواړو او ستا نه بخښنه غواړو (د خپلو تقصیرونو)

بِکَ وَنَتَوَکَّلُ عَلَیْکَ وَنُثْنِیْ عَلَیْکَ الْخَیْرَ وَنَشْکُرُکَ

او په تا باندے پخه ایمان دے او په تا قدرے ځان سپارو او ستا قدرے صفت کوو د خوږے او ستا شکر کوو

وَلَا نَکْفُرُکَ وَنَخْلَعُ وَنَتْرُکُ مَنْ یَّفْجُرُکَ اَللّٰهُمَّ

او ناشکری پخته کوو او باسو به (د خپل غم خادے نه) او پریږدو به (د خپل ولے نه) هغه څوک چه ستا دین

اِیَّاکَ نَعْبُدُ وَلَکَ نُصَلِّیْ وَنَسْجُدُ وَاِلَیْکَ نَسْعٰی

خلاف کوی اے اللہ بس ستا قدرے کامل بندگی کوو او ستا له قدرے مونځ (بدنی عبادت) کوو او ستا قدرے تندے

وَنَحْفِدُ وَنَرْجُوْ رَحْمَتَکَ وَنَخْشٰی عَذَابَکَ اِنَّ

په نمکه ایږدو او ستا قدرے درزغلو او ویو محنه در روان یو او طمع کوو ستا د مهربانی او ډیره کوو ستا د

عَذَابَکَ بِالْکُفَّارِ مُلْحِقٌ

سزا بے شکه عذاب د منکرانو (د دی بیان) ته رسیدونکے دے

تسلیم :: اَلسَّلَامُ عَلَیْکُمْ وَرَحْمَۃُ اللّٰہِ دواړو طرف ته

سلامتیا دی په تاسو اے بندیانو پیریانو او فرښتو

دمانځهٔ نه پس ډیر اذکار او دعاګانې په حدیثونو کښې راغلې دی خو زیات آسان دا

اذکار او دعاګانې دی اَللّٰهُمَّ اَنْتَ السَّلَامُ وَمِنْكَ السَّلَامُ تَبَارَكْتَ يَاذَا الْجَلَالِ وَالْاِكْرَامِ
اے ته ئې سلامتیا والا او ستا نه ده سلامتیا برکتی ئې ته لے دلویئ او قدر والا

استغفار - آیة الکرسی - تسبیحات فاطمة رضی الله عنها اَللّٰهُمَّ اَعِنِّیْ عَلٰی ذِکْرِكَ
اے الله مدد او کړه راسره په یاد ستا

وَشُکْرِكَ وَحُسْنِ عِبَادَتِكَ اَللّٰهُمَّ وَفِّقْنِیْ لِمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰی اَللّٰهُمَّ اِنَّكَ
او شکر ستا په خیسته عبادت ستا اے الله توفیق راکړه د دغې چه ته ئې خوښوې او خوشحالېږې په ،، اے ته

عَفُوٌّ تُحِبُّ الْعَفْوَ فَاعْفُ عَنِّیْ اَللّٰهُمَّ اَجِرْنِیْ مِنَ النَّارِ وَځله
معافی کوونکے ئې مینه کوې د معافۍ کولو سره نو معافی اوکړه ماته ، اے الله پناه راکړه ماله د دوزخ نه

آیة الکرسی اَللّٰهُ لَا اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْحَیُّ الْقَیُّوْمُ لَا تَاْخُذُهٗ سِنَةٌ وَّ
الله نشته څوک لائق د هیڅ قسم عبادت بے د هغه نه ژوندے دے ساتونکے د هر څه

لَا نَوْمٌ لَهٗ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا فِی الْاَرْضِ مَنْ ذَا الَّذِیْ یَشْفَعُ عِنْدَهٗ اِلَّا بِاِذْنِهٖ
نه راځي په هغه معمولي خوب او نه پوره خوب یک پراځې د هغه دے اختیار د هغې چه په آسمانونو دی او په زمکه

یَعْلَمُ مَا بَیْنَ اَیْدِیْهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا یُحِیْطُوْنَ بِشَیْءٍ مِّنْ عِلْمِهٖ اِلَّا
څوک دے هغه چه شفارش اوکی د چا الله سخته بے د الله د اجازے نه الله پوهیږي په هغې چه د

بِمَا شَآءَ وَسِعَ کُرْسِیُّهُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَلَا یَئُوْدُهٗ حِفْظُهُمَا وَهُوَ
مخلوق مخکې دی او که روستو ترینه او نه شي کیدے قبول مخلوق پوه ذکره د علم ياد الله نه لیکن چه الله او غواړي کیس کړي

الْعَلِیُّ الْعَظِیْمُ دی آیت شریف په حدیثونو کښې ډیر فضیلتونه او ثوابونه
دی کرسي د الله آسمانونه او زمکه او نه پرلیشانه کوي الله حفاظت د دے دوارو ته

ذکر شوی دی د قرآن پاک لوئے آیت وته ویلے شی دی د الله
تعالیٰ نومونه پکښې څرګند او پټ شپاړس ۱۶ ځله ذکر شو یدی تسبیحات فاطمه .. کوم

چه نبي علیه السلام حضرت فاطمه رضی الله عنها ته ښودلے وو درے دیرش ۳۳ ځل

سُبْحَانَ اللّٰهِ درے دیرش ځله اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ څلور دیرش ۳۴ ځله اَللّٰهُ اَکْبَرُ په
(پاک کنهم الله پاک) (د خدائے ستاینې صرف الله تعالیٰ له دی) الله ډیر لوئے دے

هر مانځهٔ پسے او دا داوده کیدو په وخت ویلو کښې ډیر لوئے ثواب دے

د دغه شان د مانځهٔ نه پس په کلمه توحید ویلو کښې هم ډیر ثواب دے

تنبیه ،، دا اذکار یا دعاګانې متبادل والئ تو لے یو ځل په فرضو
پسے چه ور پسے سنت وی ویل نه دی پکار په سنت کولو کښې بیا ډیر

تاخیر راځي «د مانځهٔ نه پس» عام سنن او نوافل کول پکار دی بے د
تحیة المسجد نه لیکن که جماعت کښې ئې کوي نو روا دی لیکن د فرضو نه پس

چه سنت یا نفل کوي نو مسنون طریقه ئې دا ده چه د فرضو په شکل او تر
تیب باندې نه وی یعنی صفونه د ادل بدل کی او ترتیب د صفونو دِ د فرضو د

صفونو غوندې نه وی بلکه وړاندې روستو د اودریګي ، او امام صاحب له مسنون دا
ده چه د محراب نه باهر شي روستو چرته اودریګي محراب کښې ورله اودریدل

مکروه دی (فقهي روایات) یقوم (الامام) ویتنحیٰ عن
پاڅي به امام او لرے کیګي به د هغه ځائے

ذالک المقام ثم یتنفل - لما روی عن ابی هریرة رضی الله عنه عن النبی
نه ، بیا به نفل کوي ځکه چه روایت دے د ابو هریره . صاحب د نبي علیه السلام نه چه هغه ویلي دي

صلی الله علیه وسلم أیعجز احدکم اذا فرغ من صلوته ان یتقدم او
اے عاجزه وی یو ستاسو نه کله چه فارغ شي د مانځهٔ څخه نه په مخکې شي یا روستو ځي مقام نه او نفل په هغه مقام

یتأخر وعن ابن عمر رضی الله عنه انه کره للامام ان یتنفل فی المکان
او د ابن عمر صاحب نه روایت دے چه دے مکروه کنړی امام له سنت او نفل په هغه مقام

الذی ام فیه وروی عن محمد رح انه قال یستحب للقوم ایضاً ان ینقضوا
چه امامتي ئې په کړې وي ، او د امام محمد صاحب نه روایت دے چه غوره دی قوم له هم چه صفونه مات

الصفوف ویتفرقوا (بدائع ص ۱۶۰)
کی او کډ وډ شي ——————

فیکره للامام ان یصلی شیئاً من السنن فی المکان الذی صلی فیه المکتوبة
نو مکروه ده امام صاحب له دا چه مونځ اوکی څه شئ د سنتو نه په هغه ځائے کښې چه فرضونه ئې په کړي یک

(بدائع ص ۲۷۵) قلت فان اراد فی الظهر والمغرب والعشاء ان یصلی تطوعاً أیصلی
ما اووی چه که امام اراده اوکی په ماسپښین ماخام ماسخوتن کښې چه نفل جماعت نې اوکی

فی مکانه الذی صلی بهم او یتأخر ؟ قال بل یتأخر فیصلی خلف القوم
نو په ځائے د ځے یې د امامتي کوي او که روستو لیګي به نو امام صاحب اووی چه روستو کیګي به د خلقو

احب ما اسئلک مکانه الذی یصلی بهم فیه قلت فالذین خلفه أیصلون فی
نه به ډیر ... تو مونځ ... چه خوند وی په د امامتو د ځائے نه نو ما اووئي چه مقتدیان به هغه ځائے

اماکنهم التی صلوا فیها او یتنحون ؟ قال ان شاءوا فلا باس ویتنحون
به مونځ کوي یا به بیر ته کیګي نو امام صاحب اووئي چه په هغه ځائے کې نو هیڅ

خطوۃً اوخطوتین، احب الیّ (مبسوط محمد رح ج۱)
نقصان نہ لری خو چہ قدم دوہ بیرتہ شی نو دا م خوخہ دہ

جنازہ

د یو مسلمان چہ څنګہ پہ ژوندون پہ نورو مسلمانو حقونہ دی نو دغہ شان ئے د مرګ نہ پس هم پہ نورو مسلمانانو پہ ذمہ څہ حقونہ دی (اول) دغہ د کفن انتظام دے کہ مال ئے وی نو د هغے نہ بہ ئے د کفن انتظام کولے شی۔ او کہ خپل مال ئے نہ وی نو خپلوان بہ ئے د کفن انتظام کوی۔ او کہ خپلوان ئے نہ وی یا غریبانان وی نو د هغہ ځائے پہ مسلمانانو ئے د کفن انتظام دے (دویم) غسل ورکول ورلہ څوک چہ پہ نسب مړی تہ زیات نزدی وی نو هغہ دورلہ غسل ورکی د پردی اسری پہ لاس ورلہ غسل ورکول ښہ ندی او کہ خپل ئے څوک ئے نہ وی نو بل یو نیک مسلمان دورلہ غسل ورکی (دریم) د قبر انتظام ئے پہ ټولو مسلمانانو د هغہ ځائے دے (څلورم) او پہ لارئے قبرستان تہ سنت طریقہ ئے پہ څلور تنہ اوپہ دی د هر طرف نہ لس لس قدم او شروع د ښی طرف نہ کوی د ا بہ مسلمان لہ پکار دی اللہ تعالیٰ بہ د وی ټولو ګناهونہ معاف کوی مړی تہ ترینہ هیڅ فائدہ نہ رسی، کہ موقع نہ وی او دوہ تنہ ئے اوپہ هم روا دی لیکن د مړی ادب ضروری دے (پنځم) جنازہ ئے کول پہ ټولو حاضرینو ضروری دہ دا حق د مړی د ټولو حقونہ زیات اهم دے (شپږم) دفن ئے د جنازے نہ پس فوراً چہ قبر تیار وی نو دفن دکی حصارہ کول پکښ لوے ګناہ دے دفن چہ پہ آسانۍ سره څوک سان کولے شی نو او دکی نو د ورسره لاس کوی خپلوان او نیکان ئے پہ دفن کولو زیات غورہ دی باکل مخ پہ قبلہ د قبر دیوال تہ تکیہ کوی تلہ ایخودل ئے نہ دی پکار جوندی پہ ګناهګار بری

مړی تہ پکښ هیڅ نقصان نشتہ (اووم) پس د دفن نہ ئے د ټولو حاضرینو بہ ذمہ دعا کول دی بے د لاس اوچتولو نہ دغہ شان بیا ورتہ بے د څہ پابند نہ دعا کول پکار دی مړی تہ ترینہ ډیرہ فائدہ رسی جوندو لہ هم اللہ تعالیٰ عوض ورکوی (اتم) مالی صدقہ هم چہ پہ سنت طریقہ وی نو مړی تہ ئے فائدہ رسی او صدقہ کونکی لہ هم اللہ تعالیٰ اجر عوض ورکوی

(تعزیہ) غم کورنے لہ تسلی ورکول یو والدے غورہ دی بیا بیا خہ ندی پہ دی تعزیہ کښ لاس اوچتول نشتہ دے (د غم رواجونہ او بدعات) شومی جمع ځلیښتمے کلنیز خیراتونہ د مړی اختر د مړو شوقدر نشتہ بے داټول عبث کارونہ دی ځکہ چہ د سنت د نبی علیہ السلام نہ خلاف دی مړی تہ ترینہ فائدہ نہ رسی کونکے پہ ګناهګار شی دغہ شان پہ رواجی طریقہ اسقاط کول اسقاط کولو د پارہ مړے حصار ول قرآن شریف ور پسے ګرځول مروجہ فاتحہ کول پہ پیسو یا پہ وچو ورپہ سے ختم کول د ازیلو جړے یا کورتہ بیا بیا ورتلل داټول عملونہ بے فائدے دی مړی تہ ترینہ هیڅ فائدہ نہ رسی او کونکی پہ ګناهګار شی اللہ تعالیٰ د ټولو مسلمانانو لہ د خپلے رضا والا عمل نصیب کی۔،

د جنازے مونځ

پس د نیت نہ بہ تکبیر او وائی لاسونہ بہ او تړی او ثنا بہ او وائی سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ وَتَبَارَكَ اسْمُكَ وَتَعَالٰى جَدُّكَ وَجَلَّ ثَنَاءُكَ وَلَا اِلٰهَ غَيْرُكَ " بیا بہ تکبیر او وائی او درود بہ او وائی اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ وَسَلَّمْتَ وَبَارَكْتَ وَرَحِمْتَ

اے اللہ مهربانی اوکړه په محمد علیه السلام باندے او د هغه په تابعدارو چه اعلیٰ امهربانی دکړیو او سلامتیا دکړیوه او

وَتَرَحَّمْتَ عَلَىٰ اِبْرَاهِيْمَ وَعَلَىٰ اٰلِ اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ ط

او برکتونه ورکړې وو او مهربانی د کړې وه او نهایت رحم د کړې وو په ابراهیم علیه السلام

بیا به تکبیر اووائی او چه مړے عاقل بالغ نر یا زنانه وی نو دا دعا اووائی

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِحَيِّنَا وَمَيِّتِنَا وَشَاهِدِنَا وَغَائِبِنَا وَصَغِيْرِنَا وَكَبِيْرِنَا

اے الله او بخښه ژوندی ځمونږ او مړه ځمونږ او حاضر ځمونږ او غائب ځمونږ او کشر ځمونږ او مشر

وَذَكَرِنَا وَاُنْثَانَا اَللّٰهُمَّ مَنْ اَحْيَيْتَهٗ مِنَّا فَاَحْيِهٖ عَلَى الْاِسْلَامِ

ځمونږ او نر ځمونږ او زنانه ځمونږ اے الله څوک چه ژوندے ساتے ځمونږ نه نو ژوندے اوساته په

وَمَنْ تَوَفَّيْتَهٗ مِنَّا فَتَوَفَّهٗ عَلَى الْاِيْمَانِ ط او که مړے نابالغ هلک وی

اسلام او څوک چه وژنے ځمونږ نه او وې وژنه په ایمان

یا بالغ چه د حواسو نه مخکې لیونے شوې وی نو دا دعا اووائی

اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ لَنَا فَرَطًا وَّاجْعَلْهُ لَنَا اَجْرًا وَّذُخْرًا وَّاجْعَلْهُ لَنَا

اے الله که ځمونږ د پاره تیارے او که ځمونږ د پاره اجر او توښه او که ئے شفاعت

شَافِعًا وَّمُشَفَّعًا ط او که مړے بالغه جینۍ وی یا لیونے د حواسو نه مخکې نو دا

کونکے او شفاعت ئے قبول شوے

دعا اووائی اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهَا لَنَا فَرَطًا وَّاجْعَلْهَا

اے الله که ئے ځمونږ د پاره تیارے او که ئے

لَنَا اَجْرًا وَّذُخْرًا وَّاجْعَلْهَا لَنَا شَافِعَةً وَّمُشَفَّعَةً ط

ځمونږ د پاره اجر او توښه او که ئے شفاعت کونکے او شفاعت ئے قبول شوے

بیا به تکبیر اووائی او دواړو طرفو ته به سلام اوګرځوی د سلام ګرځولو نه مخکې یا

د سلام سره به لاسونه خلاص کی لبس جنازه ختم شوه

[د جنازے مسئلے] که جنازه نه ورځي نو دا اول تکبیر نه پس د دمانځه

والا ثنا اووائی او د دویم تکبیر نه پس د دمانځه والا درود اووائی او

د دریم تکبیر نه پس د اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا اٰتِنَا فِی الدُّنْيَا حَسَنَةً وَّفِی الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً

وَّقِنَا عَذَابَ النَّارِ دعا یا بله یوه دعا اولولی او د څلورم تکبیر نه پس په سلام

اوګرځوی آئنده د جنازه ایزده کی خو پریږدی د نه تول حاضرین د دعا

د جنازے د څلورم تکبیر نه پس د سلام نه مخکې او د سلام نه پس د دفن نه

بیا د اکول نه چه عام رواج دے نشته دے بدعت دے چه د دفن

ختم شی نو تول حاضرین د دعا اوکی او رخصت د شی (سراجیه ص۲۳)

غائبانه جنازه کول نشته او چه ولی (یعنی قریبی نسبی) جنازه کښی شریک نه شی

وی نو دو باره جنازه بیا نشته د مړی او بهل لرے ځائے ته جائز نه دی

او پس د دفن نه ئے بیا و خکل هم روانه دی په صحیح قول د احناف و د دفن

نه پس تلقین نشته (کفایت المفتی ج۴ ص۶۲) نورے ضروری مسئلے وقتی طور

د عالمانو نه معلومید ے شی ،، (استخاره) (طلب د خیر د الله تعالیٰ نه)

د هر جائز کار د کولو نه مخکې بنده له پکار دی چه د الله تعالیٰ نه مشوره

واخلی او د الله تعالیٰ نه د خیر سوال اوکی ،، عن جابر بن عبد الله رضی الله

عنه قال کان رسول الله صلی الله علیه وسلم یعلمنا الاستخارة فی الامور

کلها کما یعلمنا السورة من القرآن ، یقول اذا هم احدکم بالامر فلیرکع

رکعتین من غیر الفریضة ثم یقل (الحدیث بخاری) یذکر عن انس

رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم یا انس همت بامر

فاستخر ربك فیه سبع مرات ثم انظر الی الذی سبق الی قلبك فان

الخیر فیه (الکلم الطیب ص۷۱) د حضرت جابر رضی الله عنه په روایت کښی د

استخارے اهمیت بیان شوید ے ۔ نبی علیه السلام به په ډیره په

تاکید خپلو شاګردانو ته خود له په هر کار کښی لکه د قرآن پاک د سورة د

تعلیم غوندے اهتمام ئے کوو او طریقه ئے هم خودله ده چه دوه رکعته نفل

به اوکی او بیا به دعا د استخارے اولولی د حضرت جابر رضی الله عنه په روایت

کښی هم اهمیت بیان شوید ے او د استخارے په یوه معامله کښی شمار هم

خو د لے شویدے چہ ترخو پورے بندہ کولے شی یعنی یو طرف، تہ دیندہ زړہ کښې څہ د نړلی راتشی نو بیا بیاد استخارہ اوکی، د اّگےلوبر ے پہ دی کښې پہ اللہ تعالیٰ یوطرف تہ زړہ پرانتری اود استخارے فائدہ ہم اوخود لہ چہ کوم د اللہ خوښہ وی اود بندہ پکښې خیر وی نو ہم ھغہ پہ اللہ تعالیٰ زړہ تہ راولی څہ خوب لیدل پکښې ضروری نہ دی د بندہ سرہ مشورہ کولو کښې فائدہ دہ نو اللہ تعالیٰ سرہ مشورہ کښې یقیناً فائدہ او برکت دے د دعا دادہ " اَللّٰھُمَّ اِنِّیْ اَسْتَخِیْرُکَ بِعِلْمِکَ وَاَسْتَقْدِرُکَ بِقُدْرَتِکَ وَاَسْئَلُکَ مِنْ فَضْلِکَ الْعَظِیْمِ فَاِنَّکَ تَقْدِرُ وَلَا اَقْدِرُ وَتَعْلَمُ وَلَا اَعْلَمُ وَاَنْتَ عَلَّامُ الْغُیُوْبِ اَللّٰھُمَّ اِنْ کُنْتَ تَعْلَمُ اَنَّ ھٰذَا الْاَمْرَ (پہ دِ ځائے اخپل ھغہ ضرورت یاد کی) خَیْرٌ لِّیْ فِیْ دِیْنِیْ وَمَعَاشِیْ وَعَاقِبَۃِ اَمْرِیْ وَعَاجِلِہٖ وَاٰجِلِہٖ فَاقْدُرْہُ لِیْ وَیَسِّرْہُ لِیْ وَاِنْ کُنْتَ تَعْلَمُ اَنَّ ھٰذَا الْاَمْرَ (پہ دی ځائے بہ خپل ضرورت یاد کی) شَرٌّ لِّیْ فِیْ دِیْنِیْ وَمَعَاشِیْ وَعَاقِبَۃِ اَمْرِیْ وَعَاجِلِہٖ وَاٰجِلِہٖ فَاصْرِفْہُ عَنِّیْ وَاصْرِفْنِیْ عَنْہُ وَاقْدُرْ لِیَ الْخَیْرَ حَیْثُ کَانَ ثُمَّ رَضِّنِیْ بِہٖ " اخرجہ البخاری بنحوہ

(ترجمہ) اے اللہ خیر غواړم ستانہ پہ علم ستا (یعنی پہ لسبب د علم ستا چہ تاتہ خیر معلوم دے) او طاقت غواړم ستانہ پہ قدرت ستا او سوال کوم ستانہ د فضل لوئے ستا بے شک تہ قدرت والا ئے او زہ بے وسہ یم او تہ خہ پوھیږے (حماپہ خیر) او زہ نہ پوھیږم (پہ خپلہ فائدہ) او تہ ئے ډیر خہ پوھیږے پہ ھغے چہ د مخلوق نہ پناہ دی اے اللہ کہ تہ پوھے ئے چہ دا کار (خپل کار بیاد کی) بہتر دے ما لہ پہ دین کښې ہم او پہ جد ونډن کښې ہم او پہ روستو کښې ہم (یعنی پہ انجام او فائدہ کښې) و اے اللہ کہ تہ پوھہ

بیا ہم نو مقدر کے کہ لالہ او آسان ئے کہ ر انہ او بیا پلښې لا لخیر وچوہ او کہ تہ پوھے ئے چہ دا کار (خپل کار بیاد کی) د بے خیر دے حماد پارہ پہ دین کښې م او پہ ژوند کښې م او پہ روستو فائدہ کښې م او بی الحال ہم او بیا ہم نو او ئے گرځوہ حمانہ او او گرځوہ تہ نہ ما او مقدر کہ لالہ خیر پہ چرتہ چہ وی او بیا پہ رضا کہ ما " آمین

وَاٰخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعَالَمِیْنَ ۝ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی جَمِیْعِ اَنْبِیَائِہٖ وَمَلٰئِکَتِہٖ سِیَّمَا سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ ﷺ وَعَلٰی اٰلِہٖ وَاَصْحَابِہٖ وَذُرِّیَّاتِہٖ وَاَتْبَاعِہٖ وَعَلَیْنَا اِلٰی یَوْمِ الدِّیْنِ رَبِّ اغْفِرْ لِیْ وَلِوَالِدَیَّ وَلِمَشَائِخِیْ وَتَلَامِذَتِیْ وَاَوْلَادِیْ وَاَحْبَابِیْ وَسَائِرِ الْمُسْلِمِیْنَ وَالْمُسْلِمَاتِ آمین یا رب العالمین

بمطابق ۲۹، رمضان سنہ ۱۴۰۷ھ ۲۷، مئی سنہ ۱۹۸۷ء یَوْمُ الْاَرْبِعَاءِ قُبَیْلَ الْعَصْرِ

ولی اللہ افغانی عفی عنہ (کابگرام)

ناشر